استقلال خپلواکی
www.esteqlaal.net

لیکوال: ډاکتر نوراحمد خالدی شنبه، ۲۰ نوامبر، ۲۰۲۱

پښتو ژباړونکی: ذبیح الله خوګیانی

# د افغانستان معاصر تأریخ

## لمړی برخه

فهرست:

۱- افغانستان د تمدنونو څلورلاره
۲- د یو خپلواک هیواد جوړیدل
۳- د ننی افغانستان هیواد د میلادی اتلسمی پیړی په پیل کښی
٤- د افغانستان معاصر تاریخ
٥- سلسله هوتکیان
٦- د افغانستان د نوم عمومي کیدل
٧- د افغانستان نوم، ملت او دولت ته د کرونولوجیکی له نظره مختصره کتنه

### افغانستان د تمدنونو څلورلاره:

په دې کې شک نشته چې افغانستان د خپل موجوده اربعه حدودو سره په حقیقت کې د پخوانیو تمدنونو څلورلاره ده. د وریښمینو لاره څانګه د چین او منځنی آسیا نه فارس او بغداد ته دهمدغی هیواد څخه تیریږده، تجارتی لاری د هند څخه منځنی او لویدیز آسیا ته له دی ځایه څخه تیریږی، د منځنی آسیا هیوادونه، پخوانی آریانا چې افغانستان د هغی یوه برخه ده، د ډیرو ځواکونو د لښکری لاریونونو شاهدان دی. پر دی بنسټ د دی مناطقو، منځنی او جنوبی آسیا، تاریخ د ډیرو ملتونو لکه قزاقستان، قرغیزستان، تاجیکستان، ازبکستان، ترکمنستان، افغانستان، ایران، پاکستان او هندوستان ګډ تاریخ هم بلل کیږی.

د فارس هخامنشیانو څو زره کاله د مخه یی (۵۵۰-۳۲۰ق م) دا سیمی تسخیر کړې او حتی تر مصر او ننی ترکیه پوری هم حکومت وکړ. د هغی څخه وروسته یونانی اسکندر پر دی مناطقو یرغل وکړ

او د هغې څخه وروسته د سیلوسید امپراطوری ایجاده شوه او د گریکو–باختری دولت د ننی افغانستان په شمال کې منځ ته راغی (۳۲۰ق م -۱۰ م). د هغی څخه وروسته بیا د کوشانیانو امپراطوری د قزاقستان او ترکمنستان نه نیولی تر هندوستان پوری نږدی ۱۵۰ کالونه حکومت کاوه چی مرکز یی کابل او پیښور وو. د هغوی نه پس سپین هونان (یفتلیان) او د هند گوپتا امپراطوری مدنیتونه، او یا هندو-بودایی مدنیتونه، اود کابل هندو شاهان یی منځ ته راوړل چی د هغوی آثار تر نن پوری په بامیان، کاپیسا، هډه او لوګر کې موجود دی. دوی سره موازی په همدی وخت کې پارتیان یا اشکانیان چی د پارته څخه د کسپین د بحیری سویل - شرق څخه (د اسلامی دوران د خراسان څخه) را پاڅیدلی وو، یوه لویه امپراطوری چی د ننۍ افغانستان د غرب څخه او ټول فارس یی په خپل محوطه کې نیولی وو، منځ ته راوړ او د نیمی پیړۍ لپاره یی پر دی ساحی حکومت وکړ. د دی څخه وروسته بیآد فارس ساسانیان دا هیواد د تسخیر لاندې راوست چی تر ۶۲۱م دوام وموند.

تقریبا یو زر او څلور سوه کاله پخوا،عربانو پر دغی ساحی یرغل وکړ او اسلامی تمدن یی دلته خپور کړ. د عربو څخه وروسته بیآ د همدی سیمی طاهری او صفاری حکومتونه چی د خراسان او سیستان څخه یی منشأً اخیستی وو، پر دی ساحو یی خپل تسلط مظبوط کړ. د طاهریانو په وخت د لومړی ځل لپاره دری ژبه عربی رسم الخط منی او د صفاریانو په وخت کې لومړنی شعرونه په دری ژبه ویل کیده. د یعقوب لیث صفار په وخت کښی، د کابل ښار د دوی لخوا فتح شوه او د اسلام دین په دی ساحه کې نافذ او معرفی شو. د دی څخه وروسته سامانیانو( ۲۶۱–۳۹۵ ق / ۸۷۴–۱۰۰۴ م) د بخارا د مرکزیت څخه د سیستان د صفاریانو حاکمیت یی له منځه یوړ، او د بغداد خلیفه د دوی حاکمیت پر دی ساحه د عباسی د خلافت په حدود کې په رسمیت وپیژند. د هغوی نه پس غزنویانو چی ترکمن ټبر وو د غزنی په مرکزیت یو لوی امپراطوری جوړوی ( ۹۷۵–۱۱۸۷ م) چی د لاهور نه تر اصفهان پوری سیمو کښی حاکمیت درلود. د غزنویانو نه وروسته غوریان د نیشاپور او هرات نه تر دهلی پوری حکومت کاوه (۱۱۷۰–۱۲۱۵)م. سلجوقی ترک ټبرو (۱۱۵۳-۱۱۱۰۳۷م) هم د یوی لویی امپراطورۍ په جوړیدو چی لویوالی یی چی د قزاقستان نه تر ننۍ ترکیی او ایران ته رسیده، د غوریان ځای نیسی او د اصفهان په مرکزیت د سلجوق لوی امپراطوری جوړوی. د سلجوقیانو وروسته د خوارزمشاهیان دولت د شمالی ازبکستان د مرکزیت نه حکومت کاوه چه په کال ۱۲۲۰م د مغولانو په لاس ړنګ شو. مغولان او ددوی نه پس تیموری خپلوان تر کال ۱۵۱۰م پوری په دی سیمو حکومت وکړ او ددوی نه پس صفویانو او د هندوستان مغولی سلطنت د ننی افغانستان خاورو باندی ۲۰۰ کاله حکومت کول.

پدی توګه د افغانستان موقعیت چی د تمدنونو څلورلاره ګڼل کیږی، بی له شکه د دی هیواد د نفوس او د اقوامو په جوړښت کې تاثیر یی کړی دی. په افغانستان کې د شپاړس څخه اضافه قومونه میشت دی چی په هغه کې پښتون، تاجیک، هزاره، ازبیک، پشه یی، عرب، قرغیز، ترکمن، بلوڅ، قزلباش، بیات، او داسی نور شامل دی. دا هر قوم د هیڅ کوم خارجی فشار څخه پرته، خپل خاص قومی هویت یی تر نن ورځی حفظ کړی دی. په مجموعی توګه دغه اقوام وورونه او سره برابر او د **افغان ملت** تشکیل کوي چی فرهنګی مشخصات یی د هیواد **ملي هویت** جوړوی او د نورو ملکونو څخه یی بیلوی. په دی سیمه کې د میشته پښتانه او نورو وورور قامونو د پاره چه نن ورځ یی د افغان ملت په نامه پیژنو د یو ځانګړی خپلواک هیواد او دولت جوړول، د افغانستان نوم، په هیواد کې مروج دری او پښتو ژبی، د هیواد نوری ملي ژبی، د هیواد تیر شوی تاریخ، د انګریزی استعمار په مقابل زمونږ د نیکانو قهرمانانه مبارزی، د سیاسی استقلال د بیا لاسته راوړلو او د استقلال د حفاظت او د متجاوزینو په وړاندې د هغی ساتنه او د نفوذ اضافه کیدل، او په منطقه کې د هیواد ملی منافع او ملی ارزښتونو ټول او ټول د ملي هویت برخی ګڼل کیږی.

د یو خپلواک هیواد جوړیدل:

د هوتکیانو د دولت تر جوړیدو پوری، پخوانی واکمنی د ددی سیمی د هیوادونو ګډ تاریخ ګڼل کیږی. د اسلام د راتلو نه راپدی خوا د لومړی ځل لپاره یو خپلواک دولت چی مرکزیت یی د ننی افغانستان په حدود کښی موقعیت درلود د نیمروز د زرنج په مرکزیت کښی صفاریان وو چی د عباسی د خلافت نه په خپلواک توګه دولت یی جوړ کړل او د کابل په شمول د افغانستان لویی سیمی اسلام په دین مشرف کړل.

د صفاریانو نه وروسته په غزنی کې الپتګین او سبکتګین ترکمن تبارانو لخوا جوړه شوه غزنویانو دوهم خپلواکه دولت وو چی مرکزیت یی د ننی افغانستان په حدود کښی وو. دا دولت د سلطان محمود غزنوی لخوا په یو وسیع امپراطوری تبدیله شوه چی حدود یی د هندوستان څخه تر فارس پوری وو. په دوه دلیل د سامانیان واکمنی دلته نه شمیرو: سامانیان خپلواک نه وو بلکه د بغداد دعباسی د خلافت په نوم یی حکومت کول، او دوهم دا چی ددوی مرکزیت د بخارا نه چلیده.

غوریان او ددوی نه وروسته د هرات تیموریان او بابریان ورستنی سلسلی دی چی د ننی افغانستان د حدود په مرکزیت خپلواک دولتونه جوړ کړی وو.

مګر دا پورتني دولتونه د تاریخ په اږدو راغلل او له مینځه لاړل او د نني افغانستان په ځانګړې سیاسي هویت اغیزمن میراث ندی پریښی. د همدې خصوصیت له مخې د نني افغانستان سیاسي تاریخ د هوتکیانو د دورې نه پیل کیږي.

د نني افغانستان هیواد د میلادي اتلسمې پیړۍ په پیل کښې:

د هرات د تیموریانو د دوران څخه وروسته (۱۳۷۰ -۱۵۰۰م)، په خاص ډول سره د اوزبیک شیباني خان د عذابولو او مړ کولو څخه وروسته (۱۵۱۰م)، ظهیر الدین بابر (۱۵۳۰-۱۵۰۴م)، د ننې افغانستان غربي مناطق د هرات څخه تر د قندهار ساحاتو پورې د فارس د صفویانو په داره کې شوه. د هیواد شرقي ساحې چې په دې کې کابل شامل دی د هند د مغولي امپراطورۍ (بابرۍ، تیمورۍ، ګورګانی).د حاکمیت لاندې راغی.

پدې ټوګه د کابل د بابرۍ، او د هرات د تیمورۍ حاکمیتونو نه وروسته د یو اوږد دوه سوه کلونو په مدت د ننۍ افغانستان ساحه د پردیو دولتونو لخوا چې د ددوی مرکزونه د نني افغانستان د سرحداتو څخه دباندې وولکه ډهلي، اصفهان او بخارا څخه اداره کیدل. په غرب کښې دصفوی دولت په قندهار او هرات باندې حکومت کاوو، غزنی، کابل اومشرقي سیمې د هندوستان د مغولي تر حاکمیت لاندې وو او شمالي سیمې د بخارا د حکومت تر لاس وو.

څنګه افغانان وتوانیدل چې په ۱۷۰۹م کال کې د میرویس خان هوتکی د صفویانو په خلاف په قندهار کې د بریالي قیام نه وروسته ځان ته یو ملي خپلواک دولت او خپلواک هیواد جوړ کړی؟

د معاصر افغانستان د خپلواک دولت د جوړیدو پروسه په میلادی ۱۷۰۹ کال کی په قندهار کښی د میرویس خان هوتکی د بریالی قیام نه پیل شو، په ۱۷۱۷م کال کښی په هرات کی د ابدالیانو د بریالي قیام د اسدالله خان ابدالي په مشرتابه سره لا پسی قوی شو او پای کی د د میرویس خان د زوی شاه محمود هوتکی په ۱۷۲۲م کال کې د اصفهان د ښارنیول او د صفوی امپراطورۍ د ړنګولوسره سم تکمیل شو. دا پروسه په ۱۷۳۵م کال د نادر افشار په واسطه د شاه حسین هوتکی ددولت د ړنګولو سره د یوی ۱۲ کلنه اخلال نه وروسته بیا په قندهار کې۱۷۴۷م کې د احمد شاه ابدالي د پاچاهۍ په اعلام د سره تعقیب شو او یو خپلواک دولت او هیواد د صفوی او مغولي په خرابوکي جوړ شو چې تر نن پورې د افغانستان په نامه ادامه لري.

د هوتکي دولتونه د ۲۶ کالو لپاره (۱۷۰۹-۱۷۳۵م) د ننۍ افغانستان مناطقو باندې یې حکومت کړی او د دی سربیره پر دی وتوانیدل چې د صفوی امپراطوری هم ساقطه کړی او د اته کالو لپاره د دهغوی په ساحاتو هم حکومت وکړی. د میرویس خان هوتک د قیام په زمان کې او بیآ د هغی څخه

وروسته د احمد شاه ابدالی به وخت کښی، افغانستان د منطقی د دریو قدرتونو تر منځ واقع شوی وو. دا قدرتونه په هندوستان کې د مغولو امپراطوری، په غرب کې د صفویانو امپراطوری او د بخارا جنیدی دولت په شمال کې حاکمان وو.

په شرق کې د هند مغولی امپراطوری د ورکیدو په حال کې وو. په خاصه توګه پر ډهلی د نادرشاه افشار د حملی څخه وروسته د ننی افغانستان له لاری (۱۷۳۹م)، د ډهلی د تاراج کولو او د ډهلی د خلکو د عام قتل کولو سره، د هندوستان سیاسی وضع هغه بد حالت ته رسیږی چی په عملي توګه د هند مغولی مرکزی دولت حاکمیت د منځ ولاړ او بیاً ایران ته د نادرشاه د راتګ څخه وروسته، د هندوستان د مغولی مرکزی دولت ضعف دومره ډیریږی چی د مهاراجو، سکانو او راجپوتانو سیمه ییز حکومتی حوزو درجی ته راټیټیږی.

په همدی دوران کې د روشانی او خوشحال خان نهضتونه منځ ته راغلل چی د پښتنو میشتو مناطقو کښی دهند د مغولانو استعمارختمول ته متوجه وو.

په غرب کښی د فارس صفویان په قدرت کې وو. د صفوی ترکتباره دولت د هرات د تیموریانو د قدرت په زوال کیدو سره د صفوی شاه اسمعیل په واسطه په کردستان، د ننی عراق کې، کار پیل او په تبریز کې یی بنسټ کیښودل شو (۱۵۰۱م) او د اصفهان د نیولو څخه وروسته خپل پلازمونیه یی دلته انتقاله کړه (۱۵۹۸م). په ۱۵۱۰م کال کې د هرات ښار او نور خراسان سیمو باندی د ازبک شیبانی خان د ماتی او قتل نه وروسته قابو شول. صفوی شاه عباس په ۱۵۴۵م کال کې قندهار یی د هند د مغولی امپراطورۍ څخه ونیول.

شاه عباس په ژوند کې خپل یو زوی مړ کړ او دوه نور کسان یی ړانده کړ او د دی دوه نور زامن هم په کوچنیوالی کې مړه شول، په دی خاطر د مرګ څخه وروسته کوم سرپرست پر ځای پری نه ښود او په دی خاطر یی لمسی چی شاه صفی نومیدو پاچا شو.

صفویان یو مذهبي شیعه ډله وه چی قزلباش په نامه یادیدل د قدرت ته د رسیدو څخه وروسته په ډیر شدت او تعصب سره د شیعه د مذهب د راوج کولو په خاطر یی د ایران او نورو اقوامو په منځ کې د خپل د تابع کیدو په منظور د قزلباش اردو د ترکتبر د خلکو له منځه یی تعینول. د دهمدی له کبه دی چی د ننی آذربایجان هیواد د صفویانو دولت یو آذری- ترک دولت بولی. صفویان په دی قادر شول چی لویه امپراتوری د سوریه او ننۍ عراق څخه تر قندهار په شرق کې او په ټول خراسان او شمال کې جوړ کړی.

کله چی میرویس خان هوتک په قندهار کې د صفویانو په مقابل کې قیام کولو، د صفوی امپراطوری د زوال په حالت کې وو. د ایران په غرب او شمال کې د عثمانی ترکانو د آذربایجان،ارمنستان، گرجستان، قفقاز زیادی سیمی او سوریه او ننۍ عراق یی له صفویانو څخه بیرته نیولی وو او تر همدان پوری یی پر مختګ کړی وو. په شمال کې روسانو د کسپین د سمندر سیمی په ۱۷۲۴کال کې تر لاسه کړ. د بخارا اوزبیکان همدا راز د شمال شرق څخه پر خراسان حملی کولی.

salamwatanam@gmail.com